AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۳/۰۳/۱۹

ژباړه: سمسور ودان

# لور

لور چې له واده وروسته د خسرګنۍ کره ځي، هلته پردۍ نه ښکاري؛ خو کله چې بېرته پلرګنۍ ته راشي او لاس مینځلو نه وروسته د راځوړند لاس پاک پر ځای له خپل بېګ نه لنډ رومال را اخلي؛ نو پردۍ ښکاري.

کله چې د پخلنځي په دروازه کې حیرانه ودرېږي او د یوې پیالې اوبو په خاطر هاخوا دېخوا ګوري؛ نو پردۍ ښکاري.

کله چې د هر واړه کار له پاره اجازه غواړي او له دسترخوان غوړېدلو وروسته هم د ست منتظره وي؛ نو پردۍ ښکاري.

چې د پیسو شمارلو پر مهال هاخوا دېخوا ګوري او د ځان خوښ ښودلو په بهانه تېز تېز خاندي؛ نو پردۍ ښکاري.

کله چې بېرته ځي او ستا د دې پوښتنې په ځواب کې چې: (بیا به کله راځې) درته ووایي: (خدای خبر چې کله به راشم!)؛ نو پردۍ ښکاري.

خو کله چې موټر کې کېني او خپلې اوښلنې سترګې ژر ژر صفا کړي؛ نو همدا پردیتوب په یوه ثانیه کې له اوښکو سره وبهېږي او هغه بېرته پخوانۍ لور ښکاره شي!

ژباړه: سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ